
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د تلې دربیمه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۵مه | ۴۳٤مه گڼه

## کتاب


۴ مخ

### د افغانستان د خلکو بې ستري




په دې کتاب کې به د مجاهدینو او نښيو لوړو پوړو چارواکو د شالید او پس منظر په اړه جالبې کیسې واورئ، کتاب حتماً ولولئ.

### سږ کال په بامیانو کې د کچالو حاصلات ۱۷۰ زرو ټنو ته رسېدلي دي



د بامیانو د کرنې ریاست چارواکي وايي، سږ کال په دغه ولایت کې د تیر کال په پرتله، شاوخوا لس زره ټنه زیات کچالو تولید شوي دي.
د دغه ولایت د چارواکو په خبره، په روان ۱۳۹۸ لمریز کال کې په دغه ولایت کې ۱۷۰ زره ټنه کچالو تولید شوي، چې د تیر لمریز کال پرتله د کچالو په حاصلاتو کې تر لسو زرو ټنو پورې زیاتوالی ښيي.
تیر کال په دغه ولایت کې وچکالي وه، چې له امله یې بزگرانو د شاوخوا ۱٦۰ زرو ټنو کچالو حاصل اخیستی و.
د دغه ولایت د کرنې ریاست چارواکي وايي، سږ کال د تیر کال په پرتله د کچالو د خرڅلاو بازار هم ښه دی او اوسمهال یو من کچالو تر سلو افغانیو پورې پلورل کېږي، تیر کال دا اندازه کچالو تر اتیا افغانیو پورې پلورل کیدل.

### د هلمند لاریون کوونکي:

# وحشت، بربریت او زموږ قتل عام نور بس کړئ!




۳

### ټاکنیز کمپاین، ستونزې او اغېز یې

۲ مخ

### پر ۵۰ دلیلونو روانه جگړه پردۍ او بین‌الافغاني نه ده!

۲ مخ

### تازه شمېرې: په تېرو ۱۲ میاشتو کې د جگړې له کبله نږدې ۱۸ زرو ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې


عامې روغتیا وزارت او د عمومي قوماندانۍ مرکز وېلي چې په تېرو ۱۲ میاشتو کې د جگړې له کبله ۳۳۰۰ ملکیان وژل شوي او نږدې ۱۴٦۰۰ نور ټپیان شوي دي. د دغه مرکز د شمېرو له مخې، د تېر لمریز کال د تلې له اوومې د روان کال د تلې تر لومړۍ پورې له ټول هېواده په جگړوکې څه د پاسه ۱۸۵۷۹ تنه مړه او ټپیان په دغه مرکز کې ثبت شوي دي.
بلخوا د عامې روغتیا وزارت د پېښو پر وړاندې د چمتووالي رییس میر لیث مصطفی په دې اړه وېلي: «په ۳۴ ولایتونو کې زموږ سیستم فعال دی او له دغو ولایتونو شمېرې راټولوو او زموږ د فوکل پاینټونو او د ترتیب شوي طوري سیستم په واسطه کله چې شمېرې وریفای کېږي، سیستم ته داخلېږي». له دې ډلې ۳۱۰۰ تنه مړه او ۱۴٦۰۰ نور ټپیان شوي دي. له ثبت شویو تلفاتو څخه د ځانمرگو بریدونو وژل شوي ۴٦۰ تنه او د دغو پېښو ټپیان ۱۲۰۰ تنه ثبت شوي دي. په ثبت شویو شمېرو کې په چاودنو کې ٦۵۱ تنه وژل شوي او څه د پاسه ۴۱۰۰ نور ټپیان شوي چې په هغو کې ۹۰۲ یې ماشومان او ۱۵۲ ښځې دي. د دغه مرکز په شمېرو کې بغلان، کندوز، ننگرهار، هلمند او کونړ ولایتونه ډېر ملکي تلفات لري او بامیان، پکتیا، دایکندي او بلخ تر ټولو کم ملکي تلفات لري.
د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون کمېشنر عبدالشکور مشکور وېلي: «له بده مرغه د امنیتي ځواکونو په بریدونو کې هم ملکي مرگ ژوبله کېږي چې موږ د دې شاهد یو، د میدان وردگو په سیداباد او د ننگرهار په خوگیانو کې».

### عمران خان: د افغان جگړې لپاره وسله وال زموږ د پوځ او استخباراتو له لوري روزل کېدل



۵ مخ

### ټرمپ: امریکا چمتو ده چې په افغانستان کې د سولې لپاره هر اړین گام پورته کړي



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پرون په نیویارک کې د ملگرو ملتونو عمومي اسمبلۍ ته په وینا کې وویل، د افغانستان لپاره روښانه راتلونکی او ثبات غواړي او د همدې موخې لپاره یې له طالبانو سره د سولې د خبرو زړورو گام واخیست.
ټرمپ وویل، امریکا چمتو ده چې د سولې لپاره هر اړین گام پورته کړي، خو یو ځل بیا یې پر طالبانو نیوکه وکړه چې خپلو «وحشي» بریدونو ته دوام ورکوي.
نوموړي که څه هم په افغانستان کې د سولې او ثبات هیله وښوده، خو له وسله والو طالبانو سره یې د سولې خبرو بیا پیلولو په اړه کومه ژمنه ونه کړه.
ولسمشر ټرمپ وویل، د امریکا ځینې کلک ملگري یو وخت د دغه هېواد سخت دښمنان وو، خو امریکا په دایمي دښمنۍ باور نه لري او د نړۍ په هره برخه کې ملگري او متحدان غواړي.
ټرمپ له طالبانو سره د سولې خبرو ته په اشارې ولسمشر وویل، امریکا په نړۍ کې امن غواړي او پر داسې جگړو باور نه لري چې پای ته نه رسېږي.
نوموړي وویل، د ده اداره په همدې هیله په افغانستان کې د یو روښانه راتلونکي لپاره هیله منه ده، خو له بده مرغه طالبانو خپلو وحشیانه بریدونو ته دوام ورکړی.
ټرمپ دغه څرگندونې داسې مهال کوي چې څه موده وړاندې یې له طالبانو سره د سولې خبرې چې نږدې لس میاشتې او نهه پړاوه یې دوام وکړ، لغوه اعلان کړې.

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## د هلمند لاريون کوونکي:

# وحشت، بربريت او زموږ قتل عام نور بس کړئ!




د هلمند د موسی کلا اوسېدونکو د ملکي وګړو پر مرګ ژوبله اعتراض کړی دی. د هلمند په جګړه ځپلي ولايت کې په دې وروستيو کې د کورنيو او بهرنيو ځواکونو هوايي او ځمکني عمليات ډېر شوي چې له امله يې د خلکو اندېښنې هم ډېرې شوې دي او په دې عملياتو کې د ملکي مرګ ژوبلې ډېرېدو د خلکو غبرګون پارولی دی. تېره ورځ د هلمند په مرکز او موسی کلا ولسواليو کې د ملکي مرګ ژوبلې د ډېرېدو په تړاو اعتراضونه هم وشول.

دوی د موسی کلا پر وروستۍ پېښه هم سخت غبرګون ښودلی دی او هغه يې د بشر ضد جنايت بللی دی.

دوې شپې مخکې افغان او بهرنيو ځواکونو په هلمند کې شپني عمليات او هوايي بريدونه وکړل. په دې عملياتو کې تر ډېره ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته او په ټول هېواد کې يې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پر وړاندې غبرګونونه وپارول. له دې ډلې تېره ورځ د هلمند په موسی کلا او لښکرګاه ښار کې د ملکي وګړو د تلفاتو په غبرګون کې پراخ اعتراضونه تر سره شول. د هلمند ولايت مدني فعالان، قومي مشران او د زيانمنو شوو کورنيو غړي وايي چې نور ورته د ملکي وګړو تلفات د منلو وړ نه دي.

اعتراض کوونکو د ځينو قربانيانو جسدونه هم ورسره راوړي وو او په لښکرګاه ښار کې يې د عدالت غوښتنه کوله. دوی ويل چې په ځمکنيو عملياتو او هوايي بريدونو کې ټول وژل شوي کسان ملکي وګړي دي، چې د واده په مراسمو کې يې ګډون کړی و.

د قربانيانو خپل خپلوان وايي چې تر ډېره په پېښه کې ښځې او ماشومانو وژل شوي دي. سميع الله چې په پېښه کې يې څو خپلوان وژل شوي او خور يې ټپي ده وايي، د شپې لس بجې وې چې بريد وشو. نوموړی وايي: ((يو وراره مې شهيد شوی، درې نور خپلوان مو هم شهيدان شوي، د کاکا لور او د کاکا لمسۍ مې شهيده شوې ده، خور مې ټپي ده)).

د موسی کلا اوسېدونکي نجيب الله بيا خبريالانو ته ويلي، پر هغه کور بريد وشو، چې ټول ملکيان، په تېره بيا ښځې او ماشومان پکې وو. نوموړی وايي: ((پر هغه ځای چې بريد وشو، ټول ښځې او ماشومان پکې وو، په هغه کور کې يوازينی نارينه زه وم، نور ټول ښځې او ماشومان وو)).

داسې کورنۍ هم شته چې په دې پېښه کې يې اووه غړي وژل شوي او يوازې يو ماشوم يې ژوندی پاتې دی. د موسی کلا اوسېدونکی محمد رفيق وايي: ((دلته د عبدالرحمن د کورنۍ اووه غړي ځای په ځای وژل شوي يوازې يو ماشوم يې ژوندی پاتې دی)).

د هلمند اوسېدونکو په دې اعتراضونو کې له افغان امنيتي ځواکونو وغوښتل چې په خپلو عملياتو کې له پوره دقته کار واخلي. د هلمند قومي مشر امير محمد اخندزاده وايي، طالبان، ملګري ملتونه او افغان حکومت دې نور د هلمند پر حال زړه وسېځي. نوموړی وايي: ((دا د دوی ماشومان نه دي؟ نور دې طالبان، ملګري ملتونه او حکومت زموږ د خلکو پر حال زړه وسېځي. نور دې د افغانانو وژنه ودروي)).

هلمند يو له هغو ولايتونو دی چې په تېرو ۱۹ کلونو کې د جګړې له امله سخت زيانمن شوی دی. سلګونه ولسي وګړي په دې جګړو کې وژل شوي او زرګونو کسانو د دغه ولايت له بېلو سيمو نورو ولايتونو ته کډې کړې دي. وروستی بريد خورا بوږنوونکی و، چې ډېرو سياسيونو او مدني فعالانو هغه وحشت او د افغانانو قتل عام وباله. ولسمشر غني هم تېره ورځ پر دغه بريد غبرګون وښود او زياته يې کړه، چې ملکي مرګ ژوبله نوره ورته د منلو وړ نه ده او د يادې پېښې د پلټنې سپارښتنه يې هم کړې ده.

## يوناما: په ننګرهار او هلمند کې دې وروستۍ ملکي مرګ ژوبلې په تړاو څېړنې کوو




په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ځانګړې استازي دفتر يا يوناما ويلي چې په ننګرهار او هلمند کې په هوايي بريدونو کې د ملکي مرګ ژوبلې د راپورونو په اړه څېړنې کوي.

يوناما په خپل رسمي ټويټر ليکلي چې د دوی د بشري حقونو څانګه د امريکا او افغان ځواکونو په هوايي بريدونو کې د ملکي تلفاتو په اړه د دقيقو راپورونو د پيدا کولو لپاره څېړنه کوي.

يوناما ويلي: «موږ په ننګرهار او هلمند کې د وروستۍ درنې ملکي مرګ ژوبلې د راپورونو په تړاو څېړنې کوو».

ملګرو ملتونو دغه راز له ښکېلو غاړو غوښتي چې په دې اړه پلټنه وکړي او خپلې موندنې دې اعلان کړي.

په همدې حال کې ارګ هم د هلمند ولايتي چارواکو ته دنده سپارلې چې د موسی کلا ولسوالۍ د بريد په اړه پلټنه وکړي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې افغان چارواکو ويلي وو، په دغه هوايي بريد کې چې وسله وال طالبان په نښه شوي، ملکيانو ته هم زيان رسېدلی دی.

خو ځايي خلکو ويلي چې بريد د واده پر خلکو شوی چې ښځې او ماشومان هم پکې وژل شوي دي.

له پېښې وروسته ځايي خلکو لاريونونه هم کړي او د دغې پېښې د عاملينو د محاکمې غوښتنه يې کړې ده.

د هلمند تر پېښې نږدې يوه اونۍ وړاندې د ننګرهار په خوګيانو ولسوالۍ کې د بهرنيو ځواکونو په هوايي بريد کې لسګونو ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

ملګري ملتونه داسې مهال د ملکيانو د وروستيو تلفاتو د څېړنې خبره کوي، چې په دوحه کې د امريکايي پلاوي او طالبانو د خبرو له ناکامېدو وروسته جګړې زور اخيستی چې پر نظاميانو سربېره پکې ملکي وګړو ته هم درنه مرګ ژوبله اوښتې ده.

## عمران خان: د افغان جګړې لپاره وسله وال زموږ د پوځ او استخباراتو له لوري روزل کېدل



د پاکستان لومړي وزير عمران خان ويلي، د پاکستان پوځ او استخباراتي ادارې په افغانستان کې د روسيې پر ضد د جګړې لپاره القاعده او نورې ډلې روزلې دي.

نوموړي دغه څرګندونې په نيويارک کې د ملګرو ملتونو د کلنۍ غونډې په څنډه کې د يوې څېړنيزې ادارې په ناسته کې کړې دي.

عمران خان د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي چې د حکومت لخوا يې په ايبټ اباد کې د القاعدې د پخواني مشر اسامه بن لادن د شتون په اړه پلټنې کړې وې، خو ده ته معلومات نشته.

هغه زياته کړې، د القاعدې په ګډون نورې وسله والې ډلې د پاکستان د پوځ او استخباراتي ادارې (ای اېس ای) لخوا د روسيې پر ضد د جنګېدو لپاره روزل شوې وې.

د پاکستان لومړي وزير ويلي چې پر امريکا د سپټمبر د ۱۱ مې له بريدونو وروسته، په افغانستان کې د امريکا په پيل شوې جګړه کې د پاکستان ورګډېدل تر ټولو ستره تېروتنه وه.

هغه ويلي چې په افغانستان کې د روسيې خلاف له پيل شوې جګړې وروسته، په پاکستان کې هم سخت دريځي زياته شوه.

عمران خان زياته کړې: «د روسيې پر خلاف د جګړې لپاره له اسلامي هېوادونو سخت دريځي خلک پاکستان ته راتلل او هلته به د پوځ لخوا له روزل کېدو وروسته افغانستان ته لېږل کېدل».

عمران خان ويلي، پخوا امريکايي چارواکو د روسيې پر خلاف جنګېدونکي مجاهدين اتلان بلل، خو اوس چې امريکا په افغانستان کې ده، نو همدغو خلکو ته ترهګر وايي.

د هغه په خبره، له افغانستانه د روسيې له وتلو وروسته امريکا افغانستان ته شا کړه او وسله وال يې پاکستان ته پرېښودل.

د افغانستان د روانې شخړې په اړه عمران خان ويلي، که امريکا په افغانستان کې ۱۹ کاله نوره هم جګړه وکړي، بريا نه شي تر لاسه کولی.

## ملګري ملتونه: تر دوو کلنو خبرو وروسته د سوريې د اساسي قانون کمېټه تشکيل شوې ده



د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونيو ګوتربش ويلي، تر دوو کلنو خبرو وروسته د سوريې د اساسي قانون کمېټه تشکيل شوې ده.

ګوتربش د دغه سازمان په مقر کې ويلي، دا يوه معتبره، متوازنه او ټول شموله کمېټه ده چې د بشارالاسد د رژيم او سياسي مخالفينو استازي به پکې شامل وي.

د نوموړي په خبره، د سوريې لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی ګير پيدرسن به په راتلونکو اونيو کې د سوريې د اساسي قانون د کمېټې غونډه وکړي.

هغه دا هم ويلي، باور لري چې د دې کمېټې جوړېدل به د سوريې د څه باندې اته کلنې کورنۍ جګړې د پای ته رسېدو لپاره د يوې سياسي حللارې پيل وي.

دا په داسې حال کې ده چې د سوريې کورنۍ جګړه په ۲۰۱۱ ز کال کې پيل شوه چې د شمېرو له مخې، تر دې مهاله پکې له ۴۰۰ زرو څخه ډېر کسان وژل شوي او ميليونونه نور بېځايه شوي دي.

ګوتربش ويلي، د سوريې حکومت او مخالفينو يې د يوه هوکړه ليک پر اساس خپلمنځي اختلافات پرېښي او د دې کمېټې پر جوړېدو يې هوکړه کړې ده.

نوموړي زياته کړې، دا کمېټه ۱۵۰ غړي لري او په هغه کې د دواړو لورو استازي او د نړيوالې ټولنې غړي هم شامل دي. په ورته وخت کې ټاکل شوي چې په سوريه کې د ولسمشرۍ ټاکنې په ۲۰۲۱ ز کال کې وشي.

ملګري ملتونه هيله لري چې پر اساسي قانون خبرې به داسې فضا او ميکانېزم رامنځته کړي، چې له آزادو او منصفانه ټاکنو سره به مرسته وکړي. بلخوا سوري چارواکو ويلي، بشارالاسد به بيا په دې ټاکنو کې ګډون وکړي. د يادونې ده چې مسکو او تهران د اسد د رژيم ملاتړي دي.

خو د سوريې د حکومت سياسي مخالفينو ويلي، څو چې اسد واکمن وي، د دغه هېواد د ستونزو د هوارې لپاره به هېڅ ډول سياسي حللاره نه وي. ملګري ملتونه داسې مهال د سوريې د اساسي قانون د کمېټې د تشکيل خبره کوي، چې د دغه هېواد په ځينو سيمو کې د روسيې، ترکيې او امريکا په مرسته اوربند رامنځته شوی او دغو سيمو ته له ترکيې او نورو هېوادونو څخه د سوري کډوالو ځينې کورنۍ هم بېرته ستنې شوې دي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### څلورم څپرکی
### د وزیرستان جگړه




پر همدې مهال جلال الدین حقاني د خپل زاړه عمر او ناروغیو په سبب پر ځای ځملاست. د هغه زوی ډېر ژر د خپل پلار د باتجربه ملگرو په ملتیا د مشـرتابه رول په لاس کې واخیست، په کابل کې د غربي دولتونو ائتلاف ورته د حقاني شبکې نوم کاراوه. د حقاني د زوی تر مشـرۍ لاندې دې شبکې له القاعدې سره لا ژورې اړیکې پیدا کړې. په ۲۰۰۶ز کال پاکستاني زورواکي جنرال پرویز مشـرف د کشمیري جنگیالیو کمپونه بند کړل، هماغه جهادي جنگیالي وروسته په شمالي وزیرستان کې مېشت شول، هلته له پخوا نور هم له القاعدې او پاکستاني افراطیانو سره اړیکې پخې شوې. سراج الدین حقاني د جلال الدین حقاني د افغانۍ مېرمنې زوی دی، هغه په وزیرستان کې را لوی شوی، هغه ته د مجاهدینو په منځ کې د خپل پلار د ځای ناستي په توگه خلیفه ویل کېږي. هغه به تل په وزیرستان او نورو سیمو کې د طالب ډلو تر منځ د شخړو په اوارولو او پرېکړه کولو کې اړین رول لوباوه، همدا د طالبانو د عمومي شورا د یوې برخې په توگه د هغه دنده وه. د سراج الدین حقاني د نفوذ د یوې نښې په توگه، هغه د پاکستاني پوځ او د پاکستاني طالبانو د تحریک تر منځ هم د خبرو زمینه برابروله. په وزیرستان کې ځایي، عربو، د مرکزي اسیا او پنجابي جنگیالیو د یوه مارکېټ په توگه دوکانونه پرانیزي او مشـري یې د حقاني شبکې تر غاړه ده. د ځینو په وینا دا مارکېټ د پاکستان د دولت له لوري حقاني شبکې ته په ټیکه ورکړل شوی.

د واشنگټن پر فشارونو سربېره، بیا هم اسلاماباد حاضر نه و چې په شمالي وزیرستان کې پر جهادي ډلو بریدونه وکړي. کله چې په شپږو نورو قبایلي ایجنسیو کې پاکستاني پوځ عملیات پیل کړل، بیا هم شمالي وزیرستان د جهادي ډلو د خوندي ځای په توگه پاتې و. له سویلي وزیرستان څخه هم د پاکستاني طالبانو د تحریک غړي شمالي وزیرستان ته وتښتېدل. قبایلي مشـران وېښ وو چې ولې پوځ شمالي وزیرستان ته د هغوی د نیولو لپاره نه ورځي. که څه هم طالبانو ډېرې اعلامیې خپرې کړې، د ۲۰۰٦ز کال د سولې تړون یې هم لغوه اعلان کړ، خو بیا هم اسلاماباد له شدیدو او لویو عملیاتو ډډه وکړه. له امریکایي افشا شوو ډیپلوماتیکو برېښنالیکونو څرگندېده، پښتنو سیاستوالو امریکایانو ته ویلي وو چې د پاکستان پوځ د حقاني شبکې او نورو یاغیانو تر منځ توپیري چلند کوي. پښتون سیاستوال افراسیاب خټک په پېښور کې امریکایي جنرال قونسل، لین ټریسي ته په ۲۰۰۹ز کال ویلي وو: ((ډېر وخت کېږي چې د حقاني کورنۍ له شمالي وزیرستان وتلې ده د حقاني نیمه کورنۍ د پېښور په سویلي څنډه کوهاټ په یوه کرایي کور او پاتې نوره کورنۍ یې د راولپنډۍ په خپل شخصي کور کې اوسېږي.))

اسلاماباد ته حقاني شبکه په افغانستان کې د خپل دښمن هند د نفوذ د مخنیوي لپاره ډېر ستراتیژیک اهمیت لري. امریکایي او افغان چارواکو حقاني شبکه تورنه کړې وه چې په افغانستان کې پر هندي گټو بریدونه کوي. هغوی د ۲۰۰۸ز کال د جولای ۷مې، بریدونه چې کابل کې د هند پر سفارت شوي وو، په اشارې سره وایي، چې یاد بریدونه د حقاني شبکې له لوري شوي وو چې تر ډېره یې هندي پروژې په نښه کولې. د کابل په بریدونو کې د یوه هندي پوځي په شمول څلور پنځوس تنه وژل شوي وو.

حقاني شبکه په لویه پکتیا کې د نفوذ په خاطر هم د پاکستان لپاره د ارزښت وړ ده. د تاریخ په اوږدو کې پکتیا د درانیو پاچاهانو او بیا د کمونېستانو لپاره په نظامي توگه گټوره تمام شوې. د پاکستاني استخباراتو پخواني مشـر، جاوېد اشرف قاضي په یوه ټلویزیوني مرکه کې ویلي وو: ((حقانیان په افغانستان کې جگړه کوي. د هغوی جگړه له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د ویستلو لپاره ده. دا د هغوی حق دی، هغوی د خپلواکۍ لپاره جگړه کوي. حقاني ډلې هېڅکله هم پر پاکستان کې برید نه دی کړی، هغوی زموږ دښمنان نه دي.))

**د القاعدې نوی کور**

القاعدې وزیرستان په بنسټیزه توگه بدل کړ. القاعده په پلان شوې توگه پاکستان ته نه وه راغلې. په سلگونو پلې جنگیالي یې پر توره بوړه له برید وروسته شیعه مېشتو کلیو پاړاچینار ته وتښتېدل. هلته کلیوالو نیولي او ځایي ادارې ته یې په لاس ورکړي وو. د القاعدې مشـران هم وزیرستان ته لاړل، هلته سره منظم شول او بیا یې له پاکستاني ښارونو بریدونه پلانول. هغه مهال چې مشـرف د امریکا د خوشالولو لپاره پر پاکستاني څارگرو فشار راووړ چې د القاعدې مشـران ونیسي، ځینې یې ونیول شول. ابو زبیده، د القاعده ډلې له مهمو کسانو څخه لومړی کس و چې په ۲۰۰۲ز کال، په فیصل اباد ښار کې ونیول شو. وروسته له هغه، د ۲۰۰۲ز کال په سپټمبر کې، رمزي بن الشیبه په کراچۍ ښار کې ونیول شو، هغه د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر د ۱۱مې بریدونو له کلیدي پلان جوړوونکو څخه یو و.

د القاعدې بل مهم کس خالد شیخ محمد و، هغه د سپټمبر د ۱۱مې بریدونو د پلان جوړوونکو له خورا مهمو کسانو و. نوموړی د ۲۰۰۳ز کال په مارچ میاشت کې د پاکستان په نظامي سیمه راولپنډۍ کې ونیول شو. له دې نیول کېدو وروسته، د القاعدې د مشـرانو لپاره تر ټولو ښه پټنځای هماغه وزیرستان و. عربانو په ځایي کچه د خپل امنیت لپاره له طالبانو کار اخیست. د ابوکاشه په نوم، یوه عراقي جنگیالي په ځایي ښځه او سټایل له ځایي جنگیالیو سره په میرعلي او سویلي وزیرستان کې د خلکو شخړې فیصله کولې.

دوام لري...

# د افغانستان د خلکو بې ستري

اکسوس کتابپلورنځی

د افغانستان په سیاسي تاریخ کې د مجاهدینو د دورې په اړه چې څومره ځان پوهوې، په هماغه کچه دې په افغانستان کې د جهاد په نامه له شوې جگړې نفرت ډېرېږي؛ ځکه ټول گوندونه د خپلې جگړې په ماهیت ښه پوره پوهېدل، ولې بیا یې هم د خپلو گټو د تامین او خپلو اهدافو لپاره په زرگونو خلک قرباني کړل.

که له دې موضوع یو څه ور هاخوا فکر وکړو، اکثره افغانان په ډېر پاک نیت د سرو ځواکونو پر وړاندې ودرېدل او ځانونه یې تر خپلې پاکې عقیدې قرباني کړل، په لکونو بې گناه وگړي شهیدان شول، په میلیونونو بې کوره او کډوال او په میلیونونو نور هغه یې معلول او معیوب شول؛ خو گټه چا وکړه؟ دا وطن ارام شو؟ اسلام مو وگاټه؟ هېواد مو وگاټه؟ غیرت مو وگاټه؟ نه! له دې ټولو موږ ته یوازې دا افتخار را پاتې دی چې روسان مو پسې واخیستل.

دلته نو ضرور ده دا هم وپوښتو چې روسان چا راوستل، ولې او څنگه ووتل؟

که د افغانستان سیاسي پس منظر ته وگورو، نو تر هر څه وړاندې مو له دې هېواد سره د غربي او شرقي بلاکونو ژوره علاقمندي هیښوي، نو باید پوه شو چې د افغانستان په تاریخ کې شوې ټولې سترې پېښې له رازونو، د افغانانو د پاکو احساساتو، خو د هغوی د رهبرانو له سترو بې عدالتیو او نظر تیریو خالي نه دي. د مجاهدینو دوره هم د همدې تاریخ یوه برخه ده.

د مجاهدینو رهبرانو ولې د ولس له احساساتو سره بې انصافي کړې ده؟ ځکه چې افغانستان ته د امریکایي ځواکونو د راتگ موضوع ډېره پخوا مطرح شوې وه، خو امریکا تر ډېره افغانستان ته راتگ ته زړه ښه نه کړ، دا چې ولې؟ خدای ښه پوهېږي.

کله چې روسیه له خپلو افغان انډیوالانو سره افغانستان ته د سرتېرو په را استولو سلا شوه، نو مجاهد رهبرانو پر افغانستان د یرغل د قوي احتمال په اړه امریکا ته وویل، چې ښایي روسیه خپل پوځیان افغانستان ته را واستوي. خو امریکایانو ویل چې لومړی فکر نه کوي چې روسان دې دا تېروتنه وکړي، که بیا هم دا کار وکړي، نو امریکا به پر روسیه بندیزونه ولگوي.

د وخت په تېرېدو روسیې پر افغانستان نظامي یرغل وکړ او امریکا، چې د افغانستان په اړه یې ښه معلومات درلودل، له روسیې د ویتنام د ماتې د غچ اخیستلو لپاره مناسبه موکه تر لاسه کړه.

د شوروی د تېري په لومړیو کې د امریکا ولسمشر جېمي کارټر وویل چې شوروي به پر افغانستان د تېري دروند پور پرې کړي. هغه وو چې د امریکا او شوروي تر منځ سړه، خو د افغانانو تر منځ گرمه او میداني جگړه پیل شوه. که چېرته امریکا له مجاهدینو ملاتړ نه وای کړی، د دې احتمال و چې مجاهدین به له ماتې سره مخ شوي وای.

د امریکا د غوښتنې پر اساس پر افغانستان د شوروي پر تېري ډېرو سازمانونو غبرگونونه وښودل. د اسلامي هېوادونو کنفرانس او ډېرو نورو هېوادونو پر افغانستان د شوروي یرغل وغانده. هغه وو چې امریکا هم د افغانستان اشغال د سیمې د سولې لپاره یو جدي گواښ وباله او د فارس خلیج پر حوزه یې د کنټرول ټینگولو هڅې پیل کړې.


هغه عکس العملونه چې په افغانستان کې د شوروي د تېري پر وړاندې وښودل شول، د امریکا لپاره د خوشالۍ زېري وو. امریکا له ایډیالوژیکي پلوه د اسلام او کمونېزم بحث راپورته کړ، په داسې حال کې چې په حقیقت کې یې نه د اسلام پروا درلوده او نه هم د مجاهدینو. دوی ته یوازې دا مهمه وه چې خپل دودیز سیال مات کړي او د دې کار لپاره افغانستان تر ټولو غوره ځای و.

اوس چې کله د جهاد خبره کېږي، نو وېښ وجدانونه وایي چې هو! موږ جهاد کړی، قرباني مو ورکړې دي، خو دا جهاد مو په غیر شعوري ډول د نورو د گټو لپاره کړی دی، جهادي رهبران مو هوسا کړي دي، هغه رهبران چې نه یې پخوا د ملي او دیني ارزښتونو په پېژندلو او تعریفولو سر خوږولی او نه یې هم اوس پروا لري.

جهادي رهبرانو تل له ملت سره جفا کړې ده، د ولس پاک احساسات او عقاید یې د خپلو شخصي گټو لپاره کارولي دي. د شهیدانو په وینو یې پیسې گټلې دي او لا هم د مجاهدینو په نامه له جامو سره د خلکو په سترگو ور ننوځي او باج ترې غواړي.

په دې کتاب کې به د مجاهدینو او ننیو لوړو پوړو چارواکو د شالید او پس منظر په اړه جالبې کیسې واورئ، کتاب حتماً ولولئ.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاس ه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | عمومي نړیوال حقوق (درېیم چاپ) | پوهنیار عبیدالله اخندزاده | ۲۲۰ؐ |
| ۲ | آشنایی با بناهای تاریخی افغانستان | محمد عظیم عظیمی | ۳۰۰ؐ |
| ۳ | مدخلی بر جغرافیای سیاسی افغانستان | | ۴۰۰ؐ |
| ٤ | بنیاد های جغرافیایی اقتصاد افغانستان | | ۳۰۰ؐ |
| ٥ | جغرافیای افغانستان و فرصت ثروت سازی | | ۳۵۰ؐ |
| ٦ | نقشه گنج | حمید امامی | ۲۰۰ؐ |
| ۷ | شاهدی از بهشت | ابن الکساندر | ۱۵۰ؐ |
| ۸ | اصول کنترل استرس | وراپیفر | ۱۲۰ؐ |
| ۹ | دحقیقت فلسفه ( د نوی او زړې فلسفې پرتلیزه څېړنه) | معلم امانت تېموري | ۱۰۰ؐ |
| ۱۰ | Reading and Vocabulary Development Facts & Figures1 | patricia ackert lindalee | ۱۵۰ؐ |
| ۱۱ | Reading and Vocabulary Development Thoughts & Notions 2 | | ۱٤۰ؐ |
| ۱۲ | Reading and Vocabulary Development Cause & Effect 3 | | ۱٤۰ؐ |
| ۱۳ | Reading and Vocabulary Development Concepts & Comments 4 | | ۱٥۰ؐ |
| ۱٤ | اسلامي معلومات (لومړی ټوک) | الیاس عادل | ٦۰ؐ |
| ۱٥ | (اسلامي معلومات (دویم ټوک | | ٦۰ؐ |
| ۱٦ | اسلامي معلومات (درېیم ټوک) | | ٦۰ؐ |
| ۱۸ | بازی زندگی | فلورانس اسکاول شین | ۲۳۰ؐ |
| ۱۹ | تک و تنها در پاریس | جوجومویز | ۲۳۰ؐ |
| ۲۰ | هنربرقراری ارتباط | جودی اپس | ۱۸۰ؐ |
| ۲۱ | مزیت شکست خوردن | مگان مک آردل | ۲٥۰ؐ |
| ۲۲ | راهنمای زنان آلفای در باره مردان و ازدواج | سوزان ونکر | ۱٥۰ؐ |
| ۲۳ | بیرون از ماز گذر پیچیده | اسپنسر جانسون | ۸۰ؐ |
| ۲٤ | آزمون IQ برای افزایش بهره ی هوشی | گیلز آزوپاردی | ۲۳۰ؐ |
| ۲٥ | د دیپلوماسۍ تاریخ او نړۍ والې اړیکې | ډاکټر احمد نقیب زاده | ۲۲۰ؐ |
| ۲٦ | په ۱۸۹۷ز کال کې د برتانوي ښکېلاک پرضد د ختیځو پښتنو پاځون | گریگوري ایوانوویچ نوستیخ | ۱۰۰ؐ |
| ۲۷ | علم اصول فقه | استاد غفور احمد غزنوی | ۱٥۰ؐ |
| ۲۸ | معرفی قانون اساسی( به ویژه قانون اساسی افغانستان ) | احمدشاه صافی | ۱۲۰ؐ |
| ۲۹ | د جزا کود تحلیل عمومي برخه (له ۱ـ۲۳٦مادو پورې) | پوهاند احمد گل واثق درانی | ۲۰۰ؐ |
| ۳۰ | سیاسي د افغانستان د خللکو بې ستري | پوهندوی جنرال دکتور طاوس وردگ | ۲٥۰ؐ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ  اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

## د ۱۳۹۸ کال د تلې په شپږمه د ولسمشریزو ټاکنو په اړه د درغلیو ضد ګامونه

د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ژمن دی چې د تلې د شپږمې نیټې ولسمشریزې ټاکنې رڼې، ازادې، عادلانه او په سرتاسري توګه ترسره کړي. کمیسیون په ټاکنیز بهیر کې د ټاکنیزو جرمونو او د درغلیو د مخنیوي په کار کې یو لړ ګامونه اخیستي چې له ډلې یې د بایو متریک سیستم څخه کار اخیستنه (د ګوتو د نښه کولو ثبت، د څیرې او تذکرې عکس، د تذکرې په شاتنۍ برخه کې د لګیدلي ستیکر عکس او رسید) هغه څه دي چې یادونه یې کولای شو. دا رنګه د رای ورکوونکي د ګوتې رنګول، د هغوی د تذکرې نښه کول په هغه مارکر چې ماورای بنفش یا (د لیدلو وړ نه وي)، د ټاکنو پر ورځ له دریو بجو څخه رای شمیرنه پیلیږي او د رای ورکولو مرکزونو ته د بایو متریک سیستم له لارې هغه په چټکه او دیجیتلي توګه استول کیږي. دا رنګه دغه بهیر د کورنیو څارونکو ( د ټاکنیزو څارونکو بنسټونو، د نوماندانو څارونکو، ګوندونو او سیاسي ټلوالو له خوا)، هغو رسنیو او نړیوالو کتونکو له خوا چې له کمیسیون څخه یې باور لیکونه اخیستي څارل کیږي. نو له همدې امله خلکو او اړونده ښکیلو خواو ته په کار ده چې په خپل وخت، رڼو، عادلانه، سرتاسري او له درغلیو او ټاکنیزو سرغړونو پرته ټاکنو په اړه پوره ډاډمن واوسي.

د رای شمیرنې په بهیر کې روڼوالی

رای شمیرنه د ټاکنیزو څارونکو او کتونکو تر څارنې لاندې ترسره کیږي او نامسوله کسان نه شي کولای چې په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه دغه بهیر ته ورننه شي. هغه څارونکي او کتونکي چې د پیژنګلوی باوري کارتونه لري کولای شي د رای ورکولو په مرکزونو کې د رای شمیرنې له بهیره کتنه او څارنه وکړي. څارونکي، کتونکي، د رسنیو استازي او ځانګړي میلمانه باید د رای شمیرنې په محلونو کې د ګډوډۍ سبب نه شي چې ورسره دغه بهیر وروسته پاتې شي او یا ځنډ په کې پیښ شي.

د رای شمیرنې د مرکزونو کارکونکي د رای شمیرنې په محلونو کې د څارونکو، کتونکو او د رسنیو د استازو د حضور په برخه کې ځنډ نه پیښوي، خو که د رای شمیرنې په محلونو کې له حده تیره د څارونکو، کتونکو، د رسنیو د استازیو او ځانګړو میلمنو ګڼه ګوڼه ولیدل شي، د رای ورکولو د مرکز مشر کولای شي چې نورې لازمې لارې خپلې کړي او د ټولو خواو له پاره یو لازم حد وټاکي او په محدود شمیر کې هغوی ته اجازه ورکړي. د رای شمیرنې په بهیر کې د څارونکو او کتونکو نشتوالی باید په ژورنال کې ثبت او د مرکز له مدیره دې وغوښتل شي چې دغه موضوع تائید کړي. څارونکو، کتونکو او د رسنیو استازو ته نه ښایي چې د رای شمیرنې پر مهال په تیره بیا د کاندیدانو د رایو د شمیرلو په وخت کې احساسات په ډاګه کړي چې نظم ورسره ګډوډیږي.

د رای شمیرنې د محل کارکونکي مسوولیت لري چې د رایو د صندوقونو د مهرولاک شمیرې دې د ټولو څارونکو، کتونکو، د رسنیو د استازیو او ځانګړو میلمنو په حضور کې په لوړ غږ سره ولولي او د همدغو څارونکو او کتونکو پر وړاندې دې دغه صندوقونه پرانیزي.

د رای شمیرنې د محل کارکونکي دې په لومړي پړاو کې، باید په صندوقونو کې شته رایې د طرزالعمل سره سمې په لاندې توګه ډلبندي کړي:

۱ـ هغه رای پاڼې چې د بایومتریک د ثبت تصدیق ولري (QR code): دغه پاڼې دې د طرزالعمل سره سمې ډلبندي او وشمیرل شي.

۲ـ هغه رای پاڼې چې د بایومتریک ثبت تصدیق نه لري (QR code): دغه پاڼې د اعتبار وړ نه دي او په باطلو پاڼو کې شمیرل کیږي.

همدارنګه، په راتلونکو پړاوونو کې، ګومارل شوي کارکونکي، معتبره او نا معتبره پاڼې د طرزالعمل سره سمې له بیلولو وروسته ډلبندي کوي. د رای شمیرنې په پای کې د پایلو فورمه بشپړیږي او د طرزالعمل سره سمه سکاشتیپ کیږي او د پایلو په ډیجیتلي فورمه کې نصبیږي او د محل د ریس یا کوم بل کارکونکي تر نظر لاندې په بایومتریک ماشین کې یې تشې خانې ډکیږي او د هرو دوو فورمو (د پایلو فورمه او دیجیتلي فورمه) د هغه له خوا پرتله کیږي. وروسته د محل ریس یا د کوم بل کارکونکي تر نظر لاندې د بایومتریک د ثبتولو د دستګاه نه په ګټې اخیستنې د اصلي فورمې عکس چې د هماغه کس له خوا لاسلیک شوی او د طرزالعمل سره سمه سکاشتیپ شوې اخیستل کیږي او مرکز ته استول کیږي.

د پایلو د فورمې د عکس اخیستلو په وخت کې، باید نیټه او د عکس اخیستلو وخت چې د بایومتریک په ماشین کې په خودکاره توګه ثبتیږي او د بایومتریک سیستم داسې تنظیمیږي چې د ګټه اخیستونکي پرته بدلون و نه مومي.

**د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره ۱۹۰ شمیرې ته زنګ ووهئ.**
**ستاسو رایه، ستاسو راتلونکي**

معلوماتي پاڼه ۱۲

www.iec.org.af AfghanistanIEC

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

## د ټاکنو په بهیر کې د څارونکو او کتونکو حقونه او مکلفیتونه

د نړیوالو معیارونو پر بنسټ، د ټاکنو په بیلابیلو بهیرونو کې د څارونکو او کتونکو شتون، په ټاکنو کې د رڼښت، عدالت او سرتاسري والي ضمانت کوي. څارونکي او کتونکي د ټاکنو له بهیر پر کره څارنې، د ټاکنیزو جرمونو مخنیوی کوي، تر څنګ یې له ټاکنو وروسته د پیښیدونکو شخړو مخه هم نیسي. هغه څارونکي او کتونکي چې د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه باور لیکونه تر لاسه کوي، لاندې دندې او مکلفیتونه لري:

الف. کورني څارونکي او کتونکي

کورني څارونکي چې د سیاسي ګوندونو او خپلواکو کاندیدانو له خوا پر ټاکنو د څار په موخه پیژندل کیږي، د ټاکنو د قانون له مخې لاندې حقونه او مکلفیتونه لري:

۱) د کمیسیون څخه د باور لیک تر لاسه کول او د طرزالعمل له مخې معلوماتو ته لاسرسی.

۲) د ټاکنیزو توکو پر تخصیص یا ځانګړتیا څارنه، د رای ورکولو په مرکزونو کې د محلونو پرانیسته، د رای ورکولو په مرکز کې رای شمیرنه، په فورمو کې د پایلو رسول، په ځانګړو کڅوړو کې د پایلو ځای پر ځای کول، په محلونو کې د ټاکنیزو توکو ساتنه، د رایو بیا شمیرنه، د ځانګړو کڅوړو د محلونو میندنه (انتک) او د رایو د ملي جمعبندۍ مرکز.

۳) د څارونکو له خوا د شکایت رسول او د اعتراض کول اړونده ادارې ته کله چې سرغړونه او یا ټاکنیز جرم ووینې.

٤) د ټاکنو د بهیر په اړه د رپوټ ورکول او د رپوټ لیکلو په وخت کې ریښتینې پاتې کیدل او د څارونکي له خوا د شکایت درجول.

۵) د پروپاګند له خپرولو څخه ډډه کول، او په تګلارو کې د وړاندې شویو مواردو په پام کې ساتل.

ب. نړیوال څارونکي او کتونکي

نړیوال څارونکي او کتونکي، د ټاکنو د قانون سره سم لاندې حقونه او مکلفیتونه لري:

۱) نړیوال څارونکي او کتونکي د ټاکنو په بهیر کې معلوماتو ته د لاسرسي حق لري، په بې پرې توګه د ټاکنو له بهیره رپوټ چمتو کوي چې وروسته هغه بیا حکومت، د ملګرو ملتونو استازي دفتر او رسنیو ته استوي. نړیوال څارونکي او کتونکي د ټاکنو د قانون د حکمونو او نورو تقنیني اسنادو او تګلارو مراعتولو ته ژمن دي او په ځینو برخو کې کولای شي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته اعتراض یا شکایت وکړي.

اړین او ضروري ټکي:

۱) کله چې څارونکي او کتونکي د رای شمیرنې پر مهال حاضر نه وي، نو د رای ورکولو د مرکز مشر رای شمیرنه پیلوي او د څارونکو او کتونکو ناسوبتیا په ژورنال کې ثبتوي. په دې حالت کې د هغو محلونو رایې معتبرې شمیرل کیږي چې په اړه یط شکایتونه نه وي درج شوي.

۲) هیڅوک حق نه لري چې څارونکي یا کتونکي د رای ورکولو یا رای شمیرنې له مرکزه وباسي، خو کله چې رای شمیرنه بشپړه شي او صندوقونه مهر و لاک شوي وي.

۳) څارونکي او کتونکي کولای شي چې د دغو څیزونو په کتو سره اعتراض وکړي: که رای ورکونکی په شرایطو برابر نه وي، یا یې د رای ورکولو پر وخت تذکره سټیکر و نه لري، یا سټیکر له رای ورکونکي سره سر و نه خوري او یا هم یو څوک دوه ځلې رایه ورکړي. اعتراض هغه وخت کیدای شي چې یو کس رای پاڼه مخکې له دې چې صندوق کې یې واچوي تر لاسه کړي، د دې له پاره چې د کتونکو او څارونکو اندیښنه د رای ورکولو د مرکز د چارواکي له خوا له منځه تللې وي، څارونکي او کتونکي کولای شي خپل اعتراض د کمیسیون په ولایتي دفتر یا د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې ثبت کړي.

محدودیتونه:

۱) څارونکي او کتونکي نه شي کولای د ټاکنو په بهیر کې د رای ورکولو او یا د پټو رایو په اړه مداخله وکړي. هغوی ته نه ښایي چې د رای ورکونکو په شخصي چارو کې لاسوهنه وکړي. دا رنګه هغوی نه شي کولای د ټاکنو په اجرایي چارو کې ځانونه ښکیل کړي، یا د رای ورکونکو سره د رای ورکولو په اړه همکاري وکړي. که د څارونکو او کتونکو شمیر په یو محل کې زیات شي، د مرکز مدیر یا د محل ریس کولای شي هغوی ته په نوبت سره د حضور اجازه ورکړي.

۲) د ټاکنو پر مهال او رای شمیرنه کې یوازې ښځینه څارونکې کولای شي چې ښځینه محل ته ورننه شي.

۳) د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولای شي د اصولو څخه د سرغړونې پر مهال د سیاسي ګوند یا بنسټ او یا د څارونکو او کتونکو د پیژنګلوی کارتونه باطل کړي.

**د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره ۱۹۰ شمیرې ته زنګ ووهئ.**
**ستاسو رایه، ستاسو راتلونکي**

معلوماتي پاڼه ۸

www.iec.org.af AfghanistanIEC

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

## په بایومتریک سیستم کې د رای ورکونکو د ثبتولو ځانګړنې

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۱۳۹۸ کال د تلې شپږمه د ولسمشریزو ټاکنو نیټه اعلان کړې، او په هغو کې د درغلیو د مخنیوي له پاره د بایومتریک سیستم څخه ګټه اخلي. د رای ورکولو د لایحې له مخې، د رای ورکولو د هر محل له پاره د بایومتریک یوه دستګاه ځانګړې شوې او د هر محل د برښنایي نوملړ له پاره د تګلارې سره سم د بایومتریک یو ماشین د ګټې اخیستلو له پاره ایښودل شوی. د رای ورکولو د هر محل چاپي نوملړ د ټاکنیزو توکو سره یو ځای هماغه محل ته استول کیږي. دغه نوملړ د بار کود یوه ځانګړې شمیره لري چې بایږومتریک دستګاه د هغو په لوستلو سره د هماغه محل د رای ورکونکو نوملړ موندلای شي. رای ورکونکي اړ دي، وړاندې تر دې چې رای پاڼه تر لاسه کړي، خپله د تابعیت اصلي تذکره، یا د نوم ثبتونې هغه تصدیق له ځانه سره ولري چې کمیسیون یې د پیژنګلوۍ له پاره ورکړیدی .
موظف کارکونکی، د رای ورکونکي د نوم ثبتونې د ځانګړي تصدیق سره د رای ورکونکو په نوملړ کې د شته معلوماتو له مخې نور ټول معلومات د بایومتریک سیستم ته ورننه کوي. کله چې د رای ورکونکی نوم د نوم ثبتونې نوملړ ته د نورو معلوماتوو سره ورننه شوه، د رای ورکونکي ځانګړنې اخیستل کیږي او په هماغه محل کې د رای ورکونکو په ډله کې ورزیاتیږي. دا رنګه د رای ورکونکو په چاپي نوملړ کې د رای ورکونکي د نوم مخې ته نښه ایښودل کیږي چې له هغې سره سم بیا هغه کس ته د رای ورکولو اجازه ورکول کیږي. د رای ورکونکو چاپي نوملړ د بایو متریک په دستګاه کې د شته نوملړ سره باید یو شان وي. خو که چیرته د رای ورکونکي د نوم ثبتونې ځانګړې تصدیق د رای ورکونکو په نوملړ کې نه وي، او یا د هغه په اړه معلومات سره سر و نه خوري، نو د اړونده تګلارې له مخې هغه کس چې د رای ورکولو په محل کې په شرایطو برابر ونه ګڼل شي نو هغه ته دې سپارښتنه وشي چې هغه مرکز یا محل ته ورشي چې هلته یې نوم ثبت شوی وي.

په بایو متریک سیستم کې د ځانګړتیاو د ثبتولو لارې چارې

موظف کارکونکی په شرایطو د برابرو رای ورکونکو عکس، څیره، تذکره او دواړو لاسونو د ګوتو نښې له هغو څخه اخلي. د دغو ځانګړنو تر معلومیدو او بایو متریک ثبت وروسته (QR) Code چاپیږي او د رای ورکولو د پاڼو د ویش کارکونکی د رای پاڼې په شاتنۍ برخه کې چې رای ورکونکي ته سپارل کیږي نصبوي. خو دغه څه د رایو محرمیت له منځه نه وړي. کله چې د رای ورکونکي ګوته غوڅه شوې وي، د بل لاس د ګوتې نښه یې اخیستل کیږي، که چیرته د رای ورکونکي ټول لاس پرې شوی وي، د تګلارې له مخې د هغه د بل لاس د دواړو ګوتو نښه اخیستل کیږي، او که د رای ورکونکي دواړه لاسونه پرې شوي وي، نو یوازې د هغه په عکس، څیرې او تذکرې بسنه کیږي، او هغه کس کولای شي رایه ورکړي، چې په دې حالت کې دغه موضوع د محل په ژورنال کې ثبتیږي.

د رای ورکولو د هر مرکز له پاره د بایومتریک سیستم یوه اضافي دستګاه هم په پام کې نیول شوېده. که چیرته په کوم محل کې کومه دستګاه کار ور نه کړي، نو له دغې اضافي دستګاه څخه هلته کار اخیستل کیږي.

کله چې په کوم محل کې د هر دلیل له مخې که دغه دستګاه کار ورنه کړي، د محل مشر دې په سر کې هڅه وکړي دغه ستونزه هواره کړي، خو که ډیر ژر دغه ستونزه نه هواریده، د رای ورکولو د مرکز مدیر کولای شي د بایږومتریک اضافی دستګاه د هماغه مرکز د ریس په واک کې ورکړي، او موضوع دې په ژورنال ته ورسوي او په اړه یې باید ولایتي دفتر ته هم معلومات ورکړي.

د محل ریس او کارکونکی د بایو متریک سیستم له وسیلو نه باید سم کار واخلي، او د دغه سیستم په ساتنه کې د هغوی زیات مسوولیت لري، او که په دستګاه کې هر ډول خرابي پیښه شوه، نو مسوولیت یې د هغو په غاړه دی.

**د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره ۱۹۰ شمیرې ته زنګ ووهئ.**
**ستاسو رایه، ستاسو راتلونکي**

معلوماتي پاڼه ۱۱

www.iec.org.af AfghanistanIEC

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توريستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د ميوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د تلې دريیمه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۲۵مه | ۴۳۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳۴ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۹ | لمر ختل ۰۵:٤۱ | ماسپښين ۱۱:٤۷ | مازديګر ۰۳:۱۳ | ماښام ۰۵:۵۰ | ماخوستن ۰۷:۱٤

نړۍ



## ملګري ملتونه: تر دوو کلنو خبرو وروسته د سوريې د اساسي قانون کميټه تشکيل شوې ده

۳

## باشندگان کندز: اگر امنیت تأمین نشود، نمی توانیم در انتخابات اشتراک کنیم



باشندگان بیشتر کندز می گویند که اگر در این ولایت امنیت تأمین نشود، آنها نمی توانند در انتخابات اشتراک کنند و به نامزد مورد علاقهٔ خود رای بدهند.
در عین وقت، مقامات کمیسیون انتخابات در این ولایت می گویند که ۳۰ مرکز رای دهی، تحت تهدیدات بلند قرار دارد.
از سوی دیگر، مسئولان امنیتی این ولایت می گویند که برای تأمین امنیت برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، آمادگی کامل دارد.
عنایت الله خلیق رئیس جامعه‌های مدنی در ولایت کندز، در مورد موضوع فوق، به آژانس خبری پژواک گفته است که سه حصهٔ باشندگان این ولایت، از اثر ناامنی از حق رای دهی محروم اند.
خلیق افزوده است: «مشکلات امنیتی زیاد است، در مورد انتخابات به مردم آگاهی لازم داده نشده است، مدت ثبت نام تقویتی اندک بود و مورد دیگر مهم این است که مردم بالای این روند بی باور اند، بر اساس معلومات ما ۷۵ فیصد مردم ولایت کندز، به پای صندوق‌های رای رفته نمی توانند».
همچنان ذبیح الله باشندهٔ شهر کندز، به پژواک گفته است که بغیر از ولسوالی‌ها، وضعیت امنیتی در شهر کندز نیز قابل نگرانی است.
وی افزوده است: «در ولسوالی‌ها که انتخابات برگزار نمی شود؛ اما اگر امنیت تأمین نشود، در شهر نیز مردم نمی توانند در انتخابات اشتراک کنند».
همچنان خالده یک تن دیگر از باشندگان شهر کندز گفته است که وضعیت امنیتی، در حدی نیست که زنان بتوانند رای دهند.
وی افزوده است: «در شهر کندز، برخی زنان رای خواهند داد؛ اما در ولسوالی‌ها هیچ امکان ندارد و اگر امنیت تأمین گردد، همه چیز ممکن است».

## هند: پاکستان تر خپلې ولکې لاندې کشمير کې ترهګريز مرکزونه فعال کړي دي



هند وېلي، پاکستان تر خپلې ولکې لاندې کشمير کې بېرته ترهګريز کمپونه فعال کړي دي.
د هند دفاع وزير په تازه څرګندونو کې ويلي، د دوی استخباراتي معلومات ښيي، چې پاکستان د بالاکوټ په سيمه کې د ترهګرو مرکزونه فعال کړي او دمګړۍ ۵۰۰ سخت دريځي هند ته د تګ لپاره تيار شوي دي. نوموړي ويلي، د دوی معلومات دقيق دي او پاکستان هڅه کوي چې د ترهګرو د روزنې او پياوړي کولو له لارې په سيمه کې خپلې موخې وپالي.
د دغه هېواد د دفاع وزير بيپين راووت خبرداری ورکړی چې که پاکستان د هند پر وړاندې ناسم حرکت وکړي، نو دوی به سخت ځواب ورکړي. د ده په خبره، هندي پوځيان د پاکستان له پولې سره نږدې تل د تيارسي په حال کې دي او هر ډول حرکت ته په خپل وخت ځواب ويلی شي.
وروسته له هغې چې د هند پارلمان د دغه هېواد تر کنټرول لاندې کشمير ته ورکړې کورواکي بېرته لغوه کړه، د پاکستان او هند ترمنځ په کشمير کې کشمکشونه زيات شوي چې ډېری وخت د دغو هېوادونو پوځيانو پر يو او بل بريدونه هم کړي، چې دواړو لورو ته پکې درنه مرګ ژوبله اوښتې ده.
د هند د پارلمان تر دغه اعلان وروسته په زرګونو هندي پوځيان په کشمير کې ځای پر ځای شوي او په ډېريو ځايونو کې يې د خلکو پر تګ راتګ هم بنديزونه لګولي دي.


## د بشري حقونو ملاتړي: په مصر کې د وروستيو لاريونونو پر مهال ۵۰۰ نيول شوي کسان تري تم دي



په مصر کې د بشري حقونو ملاتړي بنسټونه وايي، ډېرو کورنيو ورته ويلي چې د تېرې جمعې او شنبې ورځ په قاهره او نورو ښارونو کې د لاريونونو پر مهال يې د کورنيو تر ۵۰۰ ډېر غړي نيول شوي او تري تم دي.
حقوقي مدافعانو بي بي سي ته ويلي، په مصر کې څارنوالۍ د ۱۵ ورځو لپاره د څېړنو په موخه د ۲۰۰ کسانو د نيولو پرېکړه کړې ده.
د مصر د ټولنيزو او اقتصادي حقونو د مرکز وکيل علاء عبدالتواب ويلي، امنيتي کسانو ۳۷۰ کسان نيولي چې لا يې هم برخليک مالوم نه دی. نوموړي ويلي، په نيول شويو کې داسې کسان هم شته چې عمرونه يې تر ۱۸ کلونو ډېر نه دي. هغه ويلي، څارنوالۍ له ترهګرو ډلو سره د اړيکو لرلو او له اجازې پرته د دروغو خبرونو د خپرولو تورونه پرې لګولي دي.
عبدالتواب ويلي، لاهم د دوی مرکز ته داسې خبرونه ور رسېږي چې په راتلونکو ورځو کې د نيونو کچه په لوړېدو ده. په ورته وخت کې د بشري حقونو د څار سازمان د تېرې شنبې په ورځ له مصري چارواکو غوښتي، چې خلکو ته د سوله ييزو لاريونونو پر حق پښې کېنږدي، د نړيوال بشري قانون پر بنسټ چلند ورسره وکړي او هغه کسان سملاسي خوشي کړي، چې د خپلو حقونو تر لاسه کولو غږ يې پورته کړی دی.

ژونـــد

## غذايي مسموميت څه شی دی؟



داسې فکر وکړئ چې څو شېبې مخکې مو خوندور برګر خوړلی، اوس هېڅ ښه احساس نه لرئ؛ معده مو درنه ده، سر مو ګرځي او...، پوه شئ چې تاسې مسموم شوي ياست. هر څوک په ژوند کې لږ تر لږه يو ځل مسمومېدلی شي.
غذايي مسموميت بېلابېلې نښې لري. خفيف مسموميت، ښايي له درملنې پرته د وخت په تېرېدو سره له منځه ولاړ شي، خو شديد مسموميت يا هم د ماشومانو او اميدوارو مېرمنو مسموميت بيا جدي درملنې ته اړتيا لري.
غذايي مسموميت يوه نسبتاً عامه ناروغي ده چې د ککړو، فاسدو او يا هم زهرجنو خوړو تر خوړلو وروسته پېښېږي. د دې ناروغۍ تر ټولو لويې نښې نس ناستی او استفراق بلل کېږي چې د سر ګرځېدل هم ورسره ملګري وي. د مسموميت نښې نښانې بيا د عفونت له سرچينې سره تړلې دي او کېدای شي له يوه ساعت څخه تر ۲۸ ورځو پورې دوام وکړي. که غذايي مسموميت زورور وي، کېدای شي نښې نښانې يې توپير وکړي. که د ناروغ کس نس ناستې له دريو ورځو زياته شي، تبه يې له ۳۹ درجو لوړه وي، په خبرو کولو کې يې بدلون راغلی وي، ادرار يې کم او وينه پکې راځي، خوله يې وچېږي او د بدن اوبه يې کمې شوې وي، نو پوه شئ چې ناروغ له شديد غذايي مسموميت سره مخ شوی او ژر تر ژره بايد ډاکټر ته مراجعه وکړي.

## ستونزو ته مه تسليمېږئ!




ځينو کسانو خپل ځان همداسې خواشينی او ناهيلی اموخته کړی وي. هغوی تل پر خپلو ستونزو او ناکاميو تمرکز کوي، مخکې له دې چې له بلې ستونزې سره مخ شي، مخکې له مخکې ورته خواشيني وي. دوی په ورځنۍ ډول دومره منفي رسنۍ څاري او منفي خبرونه اوري چې ژوند يې ورته سخت کړی او په وېره کې يې اچولی وي.
خو دوی کولای شي مثبت خبرونه واوري، مثبت فکر وکړي، راتلونکي ته هيله من اوسي او خوشاله ژوند وکړي. تاسې په ډېرې اسانۍ ځان ته ښه روحيه ورکولای شئ.
ارواپوهان وايي، ژور خپګان او ناهيلي مو پر ځمکه راښکلوي. هڅه وکړئ چې را پورته شئ او نوی ژوند پيل کړئ. د دې لپاره چې بېرته پر خپلو پښو ودرېږئ او استوار ګامونه واخلئ، لومړی مو فکر بدل کړئ. د خوشاله ژوند لپاره نوي او ورې پلمې ولټوئ. ټوله ورځ پر ستونزو فکر مه کوئ، د هغه چا په اړه فکر مه کوئ چې ستونزې درته پيدا کوي او تاسې ځوروي. دغه څه مو نور هم ناهيلي کوي. تاسې بايد د يوه نوي ژوند لپاره نوی فکر هم له ځان سره ولرئ.